آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۹/۱۶

# د ښکلا او چوپتیا امپراتوري

## د ځوکرښو یونلیک

دا لنډ یادداښتونه اته میاشتي رانه ورک وو، څوورځي مخکې (۲۰۲۶/۰۹/۰۹) مې په تصادفيډول ترسترګو شول.

د ۲۰۲۵ ام کال د نومبر پر دیارلسمه د شپې شاوخوا دوېبجې په یوه ناڅاپې سفر سویس ته ورسېدم. اوږد مزل مو وهلی و، مخامخ کوټې ته او بسترې ته شوم.

د وختي پاڅېدو د عادت له مخې د سهار شاوخوا اوهبجې ویښ شوم، د خپلې خونې پرده مې چې لرې کړه، د رڼاوابو ځلا مې ولیده، څو تر اوبو لړوړاندې داسې جګـغر ولاړ و لکه د افغانستان د عاموخلکو اوږده لوږه او نه تمامېدونکې خواشیني.

زړه نازړه له ودانۍ راووتم، دلته هم داسې بل دنګـغر ولاړ و لکه د هغه بل سکنۍورور چې وي، ما ویل چې ګنې د تیږو په کلا کې راایسار شوی یم، ځان مې د طبیعت د بېپایه ښکلا او چوپتیا په دایره کې ولید. دا د سویس یووړوکی ښار و چې انترلاکن نومېږي.

د ورنو غرونو د ننداري په وخت کې مې ځان د چوپتیا او ښکلا د امپراتورۍ په سیمه کې احساس کړ او د پښتو ژبې د یو پخواني شاعر (شیخ بیټني) د یوشعر څو داسې بیتونه را په زړه شول چې د کسي غره په لمنو کې یې ویلی وو. د شیخ بیټني یاد شعر په دې بیتونو پیل شوی و:

لـویـه خـدایـه، لـویـه خدایه
ستا پـه مـیـنـه پـه هرځـایه

غرو ولاړ دی درناوي کې
ټـوله ژوي په زاري کې...

د شیخ بیټني مناجات او د دنګو غرونو د ننداري په وجه زما د ککرې په ګومبزه کې هم څو توري راامیلمانه شول، هغه مې د شیخ بیټني د مناجات په سبک د کاغذ پرمخ باندې رسامي‌کړل، کاغذ مې جیب کې کېښود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د هغې سیمې د چوپتیا او ښکلا په دایره کې زموږ لهپاره هرڅه نوي وو. بوختتیا دومره ډېره شوه چې داکرښې مې بیا هېرې شوې.

ما په هغېورځې ولیدل او واورېدل چې د طبیعت ښکلا او چوپتیا خبرې کوي، هغه څه چې ما د طبیعت ښکلا او د دنګو غرونو چوپتیا ته لیکلي وو، هغه دا دي:

دلـتـه دي د غــرونــو څـوکـې
غـلـې دي، خــو وهـې کـوکـې

مـړه ژونـدي تـوله خامـوش دي
شور او شـر دی شونـدې بـوکې

۲۰۲۵/۱۱/۱۳
انترلاکن
سویس



د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ